VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH

Vital Records Office
PO Box 70
Burlington, VT 05402

# ځنډېدلي د زېږون سند لپاره څنګه غوښتنه وکړو

ځنډېدلی **د زېږون سند لپاره ضمیمه درخواست یا غوښتنه** او **ځنډېدلی د زېږون سند کې د څرګندیدو لپاره د معلوماتو بیان د زېږون ثبتولو لپاره کارول کیږي** چې په ورمونټ کې پېښ شوي وي او هیڅکله د زیږون په ښار نه وي ثبت شوي.

**ځنډېدلی د زېږون سند غوښتنې لپاره لارښوونې:**

1. ځنډېدلي د زېږون سند لپاره غوښتنه او ځنډېدلي د زېږون سند باندې د ښکاره کیدو لپاره د معلوماتو اعلامیه بشپړ کړئ.
2. فورمې عامه محرر ته یوسئ او د عامه محرر په شتون کې خپل اوسنی قانوني نوم لاسلیک کړئ.
3. ملاتړ کوونکي اصلي یا تایید شوي اسناد چې عمر، د زېږېدنې ځای او د والدینو معلومات ثابتوي راټول کړئ:

**د هغه کس لپاره چې عمر یې 10 کاله یا پورته وي**، په ورمونټ کې ځنډېدلی د زېږون سند غوښتنې د ملاتړ لپاره درې تصدیق شوې یا اصلي اسنادو ته اړتیا ده. هر سند باید د دغه کس د زېږون نېټه یا عمر وښیي او باید لږ تر لږه ځنډېدلی د زېږون سند غوښتنې له نېټې څخه 10 کاله وړاندې، یا د زېږون د نېټې 3 کاله دننه کې جوړ شوی وي. لږ تر لږه یو سند باید د دغه کس د زېږون ځای د ورمونټ په توګه وښیي او په یو سند کې باید لږ تر لږه د مور یا پلار نوم ولري. په راتلونکې پاڼه د لومړنیو اسنادو لېست ته مراجعه وکړئ. *اسناد د ارزونې او د ایالتي محرر له لوري د تصویب تابع دي.*

**د هغه کس لپاره چې عمر یې 10 کاله یا پورته وي**، په ورمونټ کې ځنډېدلی د زېږون سند غوښتنې د ملاتړ لپاره دوه تصدیق شوې یا اصلي اسنادو ته اړتیا ده. لومړی سند باید وښیي چې مور د زېږون په وخت کې په ورمونټ کې وه. دوهم سند باید د ماشوم نوم، د زېږون نېټه، د زېږون ځای د ورمونټ په توګه او لږترلږه د یو والدین نوم وښیي. په راتلونکې پاڼه د لومړنیو اسناد لېست ته مراجعه وکړئ. *اسناد د ارزونې او د ایالتي محرر له لوري د تصویب تابع دي.*

4. لاندیني فورمې او ملاتړ کوونکي اسناد وسپارئ:

- ☐ ځنډېدلی د زېږون سند لپاره بشپړ او تصدیق شوې غوښتنه
- ☐ ځنډېدلی د زېږون سند باندې د ښکاره کېدو لپاره بشپړ او تصدیق شوی د معلوماتو اعلامیه، او
- ☐ ملاتړ کوونکي اصلي یا تایید شوي اسناد چې عمر، د زېږېدنې ځای او د پالنې معلومات ثابتوي لاندې آدرس

ته یې واستوئ: Vermont Department of Health - Vital Records Office
108 Cherry Street, PO Box 70
Burlington, VT 05402

ټول اصلي اسناد او تایید شوي د اسنادو کاپیاني به بېرته غوښتونکی ته ورکړل شي. ناتایید شوي کاپیاني به ونه منل شي.

**ځنډېدلی د زېږون سند لپاره د حقایقو ثابتولو لپاره اصلي اسناد:**

- د روغتون د زېږون شواهد یا کاري کاغذونو
- د زېږون د ډاکټر دفتر شواهد یا کاري کاغذونه
- د زېږون قابلې شواهد یا کاري کاغذونه
- د متحده ایالاتو د احصایې د شمېرو شواهد
- د واده د جواز غوښتنلیک
- د ټولنیز امنیت د حساب غوښتنلیک
- نظامي شواهد (سند نه)
- پاسپورټ
- د ښوونځی احصایه یا د داخلې شواهد
- د ژوند بیمې پالیسي - بشپړ پالیسي چې د پالیسي شمېره او دا چې کله صادر شوی دی ښیي.
- د دندې شواهد
- طبي، روغتون یا د غاښونو ډاکټر شواهد
- نور شواهد چې ایالتي محرر له لوري یې غوښتنه وشي

یاددښت: شخصي رسمي لیکنې د اصلي اسنادو په توګه نشي وړاندې کېدلی.

**ځنډېدلی د زېږون سند لپاره شواهد ولې مهم دي؟**

د زېږون سند یو ارزښتمن سند دی چې د متحده ایالاتو تابعیت او عمر ثابتوي. ځنډېدلی د زېږون سند هم زېږون حقایق ثاثبتوونکو اسناد په اندازه ارزښتمن دی. له همدې امله ملاتړ کوونکي اسناد اړین دي. اسناد باید اصلي یا تایید شوي وي او بدلون یې نه وي موندلی، تر څو ستاسي ځنډېدلی د زېږون سند کره وي.

**پوښتنې:**

ځنډېدلی د زېږون سند اړوند هر ډول پوښتنو لپاره د Vital Records دفتر - ورمونټ د روغتیا وزارت سره اړیکه ونیسئ. د Vital Records څارونکی سره په 7278 863 (802) اړیکه نیولی شئ.